نن دسنځل ګل؛ ګلان بیا په غوړېدو دي لوګرپه سیمه کې هرلورې ته چې ځې، نو دسنځل دګلوبوینه په خوند سره ستا دماغونه روښانه کوي.



# د سنځل ګل د ګلو بڼ

**دا د کومې ښکلا مخ زما پرخوا شو**
**چې خپه اشنا مې بیرته راپخلا شو**
**ما رحمت ګڼلې نه وه چې به داسې**
**بیا جوړه یوه محفل ته سره راشو**



## غزل

اجمیر ځلاند

زه راغلی په جرګه یم، په جنګ نه یم
درته سوال کوم جانانه په ننګ نه یم
په رباب چې یم مین یار مې مطرب دی
د جانان په لاس چې نه وي په ترنګ نه یم
دا چې ستا په مخ کې نه کوم خبرې
ستا د دوو سترګو تاثیر دی خو ګونګ نه یم
زه دا ستا په څېر د هر چا زړه کې اوسم
ضرر نه رسوم ګل یمه بنګ نه یم
ما اجمیر ښکلو ته دومره زړه ورکړی
که مې مړ کړي د ګل مخو نه تنګ نه یم

## نور نو سوله غواړو

کنډ او کپر دی کړلو جنګه نور نو سوله غواړو
ګل ګل وطن مې شو بد رنګه نور نو سوله غواړو
دوطن ګوټ ګوټ هر یو کانۍ بو ټی سور په وینو
دوینو سور بد رنګه رنګه نور نو سوله غواړو
ټولې دنیا چې پیژندمه د شملو په وطن
هسکه شمله مې شوله ړنګه نور نو سوله غواړو
دهر یو کلی چار چاپیره هدیرې شوې جوړې
نور حوصله شوه زمونږ تنګه نور نو سوله غواړو
آواز دې ورک شه ستا آواز څخه نفرت مورا ځی
دټو پک ډز توري شرنګه نور نو سوله غواړو
د ی ترڅو به ته زما او زه دا ستا دښمن یم
ود ریږ و یو دبل تر څنګه نور نو سوله غواړو
همرازه کله به موږ یو بل ته و داسې وایو
را شه افغان وروره ملنګه نور نو سوله غواړو

سردارآغا «همراز»

# ماشومتوبه

## سنځل ګل ته نظم

سهارلاړمه مکتب ته په سندرو
ټوله ورځ مې کړله تیره په لوستلو
چې معلم به څه ویل هغه مې زده کړ
ډیرزحمت به مې ایسته په یادولو
****
کورته راغلم موروېل راوړه کتابونه
راته وایه ټول یاد کړي صورتونه
مایویو ورته کړه تیره مورخوشحاله
تل به زماوه مورکۍ خوله کې صفتونه
****
لمرشو پورته دمکتب په لورې تلمه
سنځل ګل به مې شکول پری لوبیدمه
ټوله ورځ مې په سوچونوکې شوه تیره
چې رخصت شوم په ګلان به څه کومه
****
داقوده ګلان مې پټ کړه بکسه کې
راروانه ومه کورته تلوسه کې
چې را ورسیدم مورته سلامي شوم
څه دې کړي مور ویل وو ایه کیسه کې
****
ماویل نه موري ګلان ماسره نشته
زه په سدیمه پیران راسره نشته
موروېل څه څه ګلان درسره نشته
ته نژدې شه چې پیران درسره نشته
****
مورمسکې شوه ویلې واه دالیونې ده
زما لورخو دګلانو ښاپیرې ده
نیموشپوکې چې ګلونو باندې ګرځي
ښاپیرې بدرې جماله غرنې ده
****
بیابکسه کې یې راوړې دي ګلونه
سنځل ګل سره خوتل وي پیرانونه
ورته ګوره چې پخپل ژبه اقرارکړي
دا ناپوهه ده پیران یې دا اظهارکړي
****
دبکسې نه ټول قوده ګلان یې راکړه
سنځل ګل زمادزړه ارمان یې راکړه
ویلې ګوره لورې تاسره پیران دي
هله زرشه دا قوده ګلان ختاکړه
****
چې بیارانه وړي زمونږ کورته ګلونه
سنځل ګل کې وي ددوه مینوزړونه
که یې خپولاندې ختاکړې تابه وژني
هم په کې دي دقفقازغره پیرانونه
****
ماویل اه نورمې توبه ده دګلونو
لوبې نه کړمه ددوه مین په زړونو
دقفقازدغره پیران راسره مل شو
زه یې پناه کړمه دتوروتوروغرونو
****
دزرلښتې ماشوم توبه بیرته راشه
دسنځل ګله لیونتوبه بیرته راشه
ستاارمان کې چې تل ګورمه خیالونه
سر په تیګه باندې خوبه بیرته راشه

**زرلښته حفیظ بشریار**

## صلح

بنشسته پی صلح درین تشنه کویریم
چون طائیردربند که افتاده اسیریم
صد بانگ شنیدیم زِهرآبر بهاری
بِگریست بحال ماکه ما زنده نمیریم
آنان که فِروشند به ماصلح کجایند
گرنقد زِما جمله رَوَد باز امیریم
آوازه یی هرفاجعه تابرگوش ما شد
مَحوِنَهیب این همه گی بانگ نفیریم
این صلح کجاهست کجانیست کجا شد
ماخسته درین وادی پَیِ صلح سفیریم
صلح است یکی واژه قرآن پَذِیرَش
ورنه تا اَبد مابه هم خورد وخمیریم
راهِ دیگرِهست به سرمنزل مقصود
سودِ ندهد غُلغُله یی ماکه دلیریم
تاملت ما پیکرواحد نگردد
این خواب وخیال است که برصلح دبیریم
از رَوزَن امید اگرگشت پدیدار
یک جلوه یی ازصلح چوشاهان به سریریم
شد خشک گلوی قلم ازگفته یی امروز
"نادیا " درین ورطه غمناک اسیریم
نجیب الله "نادی"

## غزل

داژوند دی دلته هرسړی په جارکوي خبرې
دستنې اوبړستن ترمنځ یوتار کوي خبرې
په شوراوپه نغمویې زمونږ چم ښایسته کړی
بلبل په چنارونوکې سهارکوي خبرې
پوهېږم چې په کلې اوپه چم کې خاموشي ده
بس دومره راته بس ده، چې مې یارکوي خبرې
په مینه کې دې دومره هنرپروت دی احمدزیه
چې ستا اودلیلا ترمنځ سیتار کوي خبرې
اصیل خان «احمدزی»

# سوله زمونږ هیله

سوله یو سترالهي نعمت دی، چې یوه ټولنه دجنګ اوجګړو څخه په امن کې ساتي، ددې ستر نعمت څخه مونږ افغانان هله برخمن کیدای شو، ترڅو په خپلو کې سره ملي یوالې، د وروري فضا رامنځته کړو، یوبل ته لاسونه ورکړو اودیوبل لاسونه سره ونیسو، مخکنې ناخوالې او بدبختۍ شاته وغورځوو اوتیرپه هیر کړو؛ خو ځینې کسان امن اوسوله نه خوښوي، هغه کیدای شي، چې دژوند له نعمتونو اوخوندونو څخه بې برخې وي، ځکه دوی په داسې ټولنه کې لوی شوي وي، چې هلته دعلم وړانګې نه وي خورې شوې اودجهالت تورې تیارې پکې خورې وي، زمونږ وړاندوینه دوی لپاره داده، چې په تاسو خو داورځې اوشپې تیرې شویدي، په دې فکرکې لا اوس هم ډوب یاستئ، خولدې بدمرغه خوب څخه راویښ شي اوپه خپلو بچیانو باندې زده کړې وکړئ، ترڅو ستاسو ټولنه هم دنیکمرغۍ لورې ته ولاړه شي، ترکله به داسې شاته پاتې ټولنه ولرئ، پرمختللې او وروسته پاتې ټولنه سره پرتله کړي، نوجوته به شي، چې هرڅه په زده کړو اوپوهې ترسره کیږي، نو زده کړه بیا یو سوله ئیز اوله بدبختیو څخه خالي چاپیریال ته اړتیا وینې، ځکه پخوانې هغه دجنګ اوجګړو وختونه له سولې او امنیت وخت سره پرتله کړو، چې پرمختګ زمونږ په سوله کې شته نه په جنګ اوجګړو کې، نو راځئ، چې ټول سره وهڅوو، چې سولې او امنیت لپاره لاسونه راونغاړي، په هیواد کې سراسري پوهاوی خلکوته د سولې په اړه ورسوي، ترڅو دهیواد څخه دناامنۍ ټغر ځای د سولې او امنیت ټغرونیسي.
نوزمونږ یوازنۍ هیله هم همداده، چې په افغانستان کې تل پاتې سوله راشي او په ډاډمنه فضاء کې مونږ افغانان ژوند وکړو، ترڅو هیواد مو تل آباد او د پرمختللو هیوادونو سره سیال شي.

امیني

سوله اوپخلاینه عزت اوسرلوړي ده، جنګ ذلت اوتباهي راوړي.

# در وصف لوگر

اینجا که من به شعر ثنا خوان لوگرم
از روی عشق دل واله و حیران لوگرم
چون در محیط آن به یقین گنجهاست
زانرو به ذوق دشت و بیابان لوگرم
با این نهفته ها که بسا در نهاد اوست
خروار نعره گوست که من بامیان لوگرم
باید کرد لوگر زمین را تعریف و توصیف
من به یاد سجاوند وعینک باستان لوگرم
با این همه غنایم پوشیده از نظر
خواهان بازسازی و عمران لوگرم
چون درضمیر ما همه شوق عبادت است
من دوستدار مساجد و آذان لوگرم
لوگر بود سرزمین پاک و باب الجهاد
من عاشق مجاهدین قهرمان لوگرم
من در پرتو احکام قران با زبان وقلم
همکار فدایی والی جوان لوگرم
صدیقی دارد عشق وطن در سر همی
گوید که من شاعر خوش خوان لوگرم
****
خوشا سرزمین زرخیز و میوه دار لوگر
خوشا آب و هوای تازه و خوشگوار لوگر
موسم میوه های تازه و انگور شد قرین
خوشا چرخ و پادخواب و زرغون شهر لوگر
پل علم بود مرکز و شهر زیبا پیکر آن
خوشا برکی برک و محمد آغه و کلنگار لوگر
دره های سر سبز و کوه های بلندش نگر
خوشا مناطق خوشی وازره و خروار لوگر
بود لوگر زادگاه مهد علم و عرفان
خوشا سرزمین مجاهد پرورپرافتخار لوگر
لوگر بود باب الجهاد سنگرگاه حق
خوشا مجاهدین و غازیان پرکار لوگر
صدیقی میکند لوگر را توصیف
خوشا حلیم فدایی والی پرکار لوگر
*الحاج محمدظاهر (صدیقی)*